www.goftaman.com



نور محمد غفوری

د 2016 کال د فبروارۍ د میاشتې 29 نېټه

د 1394 کال د حوت د میاشتې لسمه نېټه

# عزم

نن مې بیا په سر هوا راځی د بزم
را یادېږی مې خواږه یاران د رزم

کاشکې موږ سره یوځای یوځلې بیا وای
مجلسونه وای د نثر او د نظم

که هرڅو مې ګیره سپینه شوه ملګرو
د وطن خدمت ته لا مې کلک شو عزم

چې نېشه مې دې ځوانۍ راباندې راشی
د ځُمونو حوصله لرم د هضم

ستا په مینه کې پتنګ یم، لکه وم چې
د (نور) شمعې ته بلېږه زه به سوځم

واصل آباد - کابل